# نن به ځم سبا به ځم

## پښتو ادبي نثر

### د کعب بن مالک (رض) لنډه کیسه

Download from:aghalibrary.cm

استاد میرویس باوري

۱۳۹٦ هجري لمریز

د کتاب ځانګړنې :

**د کتاب نوم : نن به ځم سبا به ځم**

**ليکوال : استاد ميرويس باوري**

**کمپوز او ډيزين : انجنير فريد احمد باوري**

**د ليکوال اړيک شميره:۰۷۷۳۱۲۰۶۵۸**

**چاپ وار: لومړی**

**چاپ شمير: ۵۰۰۰ ټوکه**

**چاپ کال : ۱۳۹۶ هجري لمريز**

**خپرندوی : افغان خپرندويه ټولنه غزنی**

**د چاپ حق له ليکوال سره خوندي دی**

# ډالۍ

د مرحوم استاد خلیفه صاحب معین احمد خان روح ته .

هغه چې د الله (ج) د دین خدمت یې د ژوند لومړیتوب و.

جنت یې په برخه .

بسم الله الرحمن الرحیم

**سریزه**

**د تبوک غزا له هره اړخه سخته او مهمه وه ځکه :**

**دا له یو مغرور خارجي طاقت سره نظامي ټکرو.**

**لاره اوږده ، سخته او له مصارفو ډکه وه .**

**سور ترک او د شدیدې گرمۍ موسم و.**

**د مسلمانانو لوژستیکي ، جنگي او خوراکي امکانات د صحابه وو د شمېر په مقایسه په نشت حساب وو، صحابه وو به د خورماوو په مازې زبېښلو او د پاڼو په خوړلو ورځ تیروله .**

**په لاره کې اوبه نه وې ، ان د مذبوحه اوښانو د معدو او احشاوو له اوبو استفاده کیده .**

**د طایف د غزا ستوماني لا نه وه ختلي او صحابه ستړي وو. د مدینې په داخل کې د عبدالله ابن ابی او ابو عامر شیطاني گوندونو د اسلام ضد هڅې تیزې کړي وې .**

د ټولې نړۍ خلک د روم او اسلام برخليک ته انتظار وو، خصوصاً د فارس امپراتورۍ سخته په انتظار کې وه .

دلته په مدينه کې د ميوو او حاصلاتو د را ټولولو رسدو .

دا او داسې نور عوامل هغه څه وو ، چې د تبوک د غزا اهميت او سختوالی يې څو برابره کړی و.

خو لدې ټول حالت سره سره صحابه کرام له رسول الله سره تبوک ته وخوځېدل ، خپل ايثار ، نظم ، ثبات او اطاعت يې ثابت کړ او پر خپله ميړانه يې د ټولې نړۍ سياسي او نظامي تفکر ور بدل کړ او مياشت وروسته لښکر او لارښود دواړه په خير او عافيت مدينې ته راورسيدل .

خو ځينې صحابه لدې غزا څخه پر کور کيناستل :

رېښتيا ځيني کسانو نبوي ملګرتيا ونکړه او چې کله خبر سول د دوی په ناغېړۍ کې رباني آيتونه نازل سوي ، نو د مځکې مخ پرې تنګ سو، ځانونه يې د جومات په ستنو پورې وتړل او سوګند يې وخوړ چې تر څو يې الله و نه بښي همداسې به تړلي پاته وي . په ناغېړو صحابه وو کې درې کسه : کعب بن مالک ، هلال بن اميه او مراره بن

ربیع هغه څوک وو ، چې نه یې ځانونه په ستنو پورې وتړل او نه یې د منافقانو غوندې کاذب عذرونه وړاندې کړل، بلکې رسول الله ته یې حقایق وویل او خپله معامله یې الله ته وسپارله .

لنډه دا چې د جومات د ستنو صحابه وبښل سول ، د منافقانو بواطن الله ته وسپارل سول، او د دې دریو مخلصو صحابه وو، برخلیک تادیباً راتلونکي ته وځنډول سو.

د دوی له ډلې څخه کعب بن مالک (رض) خپله کیسه پخپله بیانوي، ته ورته راسه!

## د کعب بن مالک (رض) کیسه

د تبوک غزا ډېره سخته ، مهمه او حتمي وه ، ځکه نو رسول الله پر مومنانو غږ وکړ، چې زړونه سره یو که ، لاسونه سره ورکه او لوړ محاربوي احضارات ونیسي .صحابه وو سمدستي تحرک پیل کړ او هر چا د خپل وس او اخلاص په اندازه کومکونه له خپل اسلامي اردو سره ثبت کړل .

ان میرمنو خپلې ګېڼې ، غوږوالۍ ........ حتی د سر کوځۍ دې مقدسې دفاع ته ډالۍ کړې،حضرت عثمان بې شمیره دنیا، حضرت عمر نیمه دنیا او حضرت ابوبکر ټوله دنیا نبوي درشل ته تقدیم کړه .

خو کعب بن مالک وایې« ما هیڅ ونکړل ، کرار او بیغه پر کور کینستم بله ورځ که ګورم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له دیرس زره کسیز لښکر سره تبوک ته حرکت وفرمایه ، خو زه لا پر کور ناست یم ، سست او غافل یم او له ځان سره وایم : ځه نن به ځم سبا به ځم ، په کور کې دوه سورلۍ ، اسلحه او امکانات هر څه لرم او چې کله وغواړم نو نبوي ملګرتیا ته رسیدای سم . تر څو د خدای ابتلا وه ، دا قیمتي شپې ورځې دانه دانه له لاسه ووتې او زه لدې سعادت

ځخه بې برخې سوم ، ډېره د وحشت صحنه به دا وه ، چې له کوره به را ووتم نو مدينه به تسه وه ، يا به منافقان تر سترګو کيدل او يا معذور صحابه .

چا راته وويل : رسول الله چې کله تبوک ته ورسيد، نو له صحابه وو يې وپوښتل : دا کعب د مالک زوی څه وکړل ، ولي رانغی؟

د بني سلمه وو يو نفر ورته وويل : عيش ، عشرت او غرور پرېنښود چې له کوره را ووزي .

خو معاذ بن جبل مې دفاع وکړه او دې کس ته يې وويل : ته سم و نه غږېدې ! قسم په الله چې موږ په کعب کې له خير پرته بل څه نه وينو . رسول الله دا ټولې خبرې په سکوت واوريدې او دا صحنه تېره سوه .

زه خو په مدينه کې پر کور ناست وم او پدې سوچونو کې وم، چې بالاخره به رسول الله ته کومه پلمه تراشم او پر څه به قناعت ورکوم؟ شپې ورځې وتې ، بله ورځ خبر سوم ، چې د اسلام لښکر بيرته مخ پر مدينه را غبرګ دی ، د دې خبر په اورېدو مې يو دم په ځان کې ژور بدلون وليد او له زړه ځخه مې د دروغو پلمې يو مخيز ووتې او دا مې پخه پريکړه وکړه چې په نبوي حضور کې به هيڅ پلمه نه تراشم

او ریښتیا به وایم ، ځکه زه پوهیدم  د آنحضرت په مخکې د آسماني و حیې په شتون کې د دروغو  پلمې نه چلیږي تر څو بله ورځ د کایناتو سردار له خپل ثابت قدمه لښکر سره په خیر او عافیت مدینې منورې ته را ورسید . رسول الله جومات ته ولاړ او د صحابه وو لویه ټولۍ ور سره مشرفه سوله .

منافقان ډله ډله را پیل سول او په خورا باریکو غوړو کلماتو یې د خپل نه ګډون کاذب عذرونه  وړاندې کړل ، زه ورته ځیر وم ، نبوي ذات ورته اغماض  کاوو او ظاهراً ټول منافقان له ملامتیا پرته له نبوي حضوره پورته سول ، رخصت سول .

وار زما سو ، پداسې حال کې  چې د زړه مې درزا وه ، په اندامونو مې زلزله وه او د هډوکو مې خرپې و ، ورته کېناستم ، ورته ومې کتل ، سترګې مې پکې خښې کړې ، پر نازنین مخ یې د سفر دوړې پرتې وې ، ستومانه و او چې ویې پیژندم ، په مبارکه څېره کې یې بدلون راغی ، خپګان  پکې څرګند سو ، نا راضه را معلوم سو، ترخه موسکا یې را ته وکړه او د قهر او تبسم په ترکیب سره یې راته وفرمایل : کعبه! تا خو سورلۍ هم درلوده ...... ته ولې پاته سوې؟

ورته ومې ویل : د خدای حبیبه! که ته نن کوم دنیایې واکمن وای ، کیدای سوای د دروغو په پلمو مې قناعت در کړی وای ، خو ته چې د الله رسول یې ، نوکله کیدای سي، هغه څه چې الله پرې خبر دار دی او وحیه هم بر قراره ده ، له تا څخه پټ کړم . یا رسول الله ! ما په تبوک کې د نه ګډون لپاره هیڅ عذر نه درلود، دوه سورلۍ ډېره دنیا او د سفر ټول تجهیزات را سره وو، خو زه خپل غفلت او سستۍ پر کور کینولم ، زه مجرم یم ، پښیمانه یم او خپه یم ، زه اوس ستا هره پریکړه د سر په سترګو منم .

رسول الله زما د حالت او خبرو په غبرګون کې وفرمایل : دې نفر ریښتیا وویل ، ځه پورته سه او د الله پریکړې ته منتظر اوسه !

زه را جګ سوم او یقین مې سو چې ابتلا زښته درنه ده او څه اسانه نده او وروسته خبر سوم چې هلال او مراره هم په نبوي درشل کې حقایق ویلي دي .څه موده وروسته د الله رسول حکم وکړ: لدې دریو کسانو سره به څوک نه غږیږي . دې حکم موږ د ابتلاوو یو بل پړاو ته داخل کړو او یو عجیب حالت را مخې ته سو:

ټولو مومنانو راوبط پرې کړل ، حتا نږدې ملګري او دوستان بیزاره سول ، څوک نه راسره غږېدل، چا نه راته کتل، څوک په مخه نه راتلل

،لاره يې چپوله، چا سلام نه را کاوو ، چا مو سلام نه اخيست ، حتا خپل د کاکا زوی قتاده ته مې دری وارې سلام واچاوو ، خو ځواب يې رانکړ .......... اخير مراره او هلال دومره کوچني سول ، چې پر کور کينستل ، زړاوې او زاری يې پيل کړې، او ما چې ليږ ځان تکړه باله نو جومات ته به تلم ، رسول الله ته به نيږدې کيدم ، سلام به مې پرې اچاو او دې ته به ځير وم ، چې ته ودريږه مبارک شونډان يې حرکت فرمايې کنه ، رسول الله ته به مې کتل، خو جناب به راته نه کتل او دا چې د دنيا او اخرت برخليک مې ناڅرگند و نو ما او خپل زړه سره وخوړل .

پدې منځ کې يوه ورځ يو چا د غسان د پاچا خط راکړ، ليکلي يې و:

خبر سوم محمد شړلی يې ، که موږ ته راغلې هر کلی به دې وکړو ! د ليک په ليدلو مې ټکان وخوړ، و مې زړل او له ځان سره مې وويل : دا د الله بله ابتلا ده ، چې خبره مو له مدينې د باندې هغه ځای ته رسيدلې ده ، چې اوس کفار هم راته په تمه دي، ليک مې سمدستي وسوځاوو.

له څلويښتو ورځو وروسته د رسالت له درباره بل فرمان را ورسيد چې دا دری کسان دې له خپلو ښځو جلا سي، عرض مې وکړ : ښځې

ته طلاق ورکړم ، که یې د پلرګنۍ کره ولیږم ، فرمان راغی چې نه ، طلاق دي نه ورکوي، بلکې ترې لرې دي سي . نو مې خپله بې بې د پلرګنۍ کره ولیږله او ورته ومې ویل : زما دبرخلیک تر ټاکنې پورې هلته اوسه نور نو په ما باندې د الله پاک دا پراخه مځکه بیخې تنګه سوه ، د تن وینه وچه سوه او ډېرو اندیښنو وزبیښلم ، خو تر ګردو بیا غټه اندیښنه راسره دا پیداسوه ، چې که زه پدې ځوړند حالت کې مړ سم ، نو ایا رسول الله به زما جنازه نه کوي؟ او که خدای مکړه رسول الله پدې ترځ کې وفات سي، نو مسلمانان به زما تر مرګه راسره همدا وضعیت کوي او ځوک به مې مړي ته نه رانیږدې کیږي؟

لنډه دا چې زموږ د مصیبت پنځوس ورځې پوره سوې ، چې یو نا څاپه د غره لخوا را باندې غږ سو : کعبه زیری مې در باندې خوشاله اوسه! زه سمدستې په سجده ولویدم او هم یو سپور زما په خوا را نیږدې سو او د نجات زیری یې را ورساوو ، د غاړې کالي مې ور وکښل او په غیږه کې مې ټینګ کړ ، او ځان مې د آنحضرت حضورت ته ورساوو، خلک ډله، ډله راتلل او تبریکات یې را کول، خو تر ټولو لومړی مې حضرت طلحه مخې ته ودرید، روغبړ مو سره وکړ او ډېره مینه مو یو بل ته ورکړه، د آنحضرت څیره د صحابه وو په منځ کې له ډېرې خوشالۍ د

سپوږمۍ غونډې ځلیدله او دیو خواږه تبسم په بدرګه یې راته وفرمایل : الله تعالی ستا توبه قبوله کړه .

ما ورته وویل : یا رسول الله نو د همدې توبې مجراینه داده چې زه تل رینښتیا ووایم او خپل ټول مال د الله د رضا لپاره صدقه کړم . جناب وفرمایل : نه ، یو څه ځان ته پرېږده او یو څه صدقه کړه، همداسې مې وکړل او بیا مې له خپل ځان سره پخه ژمنه وکړه چې د ژوند په ټولو حالاتو کې به پر رینښتیا ویلو ټینګ درېږم ، ځکه زما دا بریالیتوب د رینښتیا ویلو او الهي رحمت نتیجه ده .

بس دا کیسه همدومره .

نکردک ــ د ۱۳۹۵ هجري لمریز کال د جدي یوویشتمه

Download from:aghalibrary.cm